د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
معلوماتي پاڼه

نواه کوبورن او محمد حسن وفایي
فبروری ۲۰۱۹

# د افغانستان په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی

## د موضوعاتو لیکلړ

١. پېژندنه:.......................................١
٢. د ښځو په وړاندې د ټاکنو اړوند تاوتریخوالی څه شی دی؟.......................................٣
٣. د ښځو په وړاندې ټاکنیز تاوتریخوالی څه شی دی او څوک د هغه لامل ګرځي؟.......................................٨
٤. لومړی، پایلې، څه کولای شو چې په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي مخه ونیسو؟.........٩

### نواه کوبورن:

نواه کوبورن چې په بنینګتون کالج کې سیاسی بشر پیژندونکی دی د ده ډیری څېړنې د افغانستان او سویلي آسیا په اړه، د تاوتریخوالي مطالعه، حکومتداری او د خلکو د لاسوهني چلند په سیاست کې، ځواک او کلتور باندي متمرکزی دي. ښاغلی کوبورن د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انستیټوټ او د آغا خان کلتوری بنسټ سره په کابل کې دنده ترسره کړی ده. همدارنګه د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره کې یې د ټاکنو د کړیو په اړه ډیری څېړنې تر سره کړی دي. د ټولټاکنو د چال چلند په اړه یې د انا لارسون سره په ګډه "په افغانستان کې د ډیموکراسۍ تمرین: په هیواد کې د سیاسی ثبات څخه خالي (لیری) ټاکنۍ(کلمبیا ۲۰۱۳م)" څېړنه یې لیکلي ده. د دي برسیره نور کتابونه چې د بازاری سیاست تر عنوان لاندې دي: ځواک او کولالی د افغانستان په مارکیټ کې(استنفودډ ۲۰۱۱م) او همدارنګه یو بل عنوان: "د امریکا نړیوال جنګ نالیدلی کارکوونکي" (استنفورډ ۲۰۱۸ م) د ده د مقالو څخه دي.

### محمد حسن وفایي:

وفایي د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د څېړنو مدیر دی او د ۱۵ کلونو راهیسی د جنډر یا جنسیت، ټولیز خوندیتوب، ډیموکراسی جوړونه او دی ته ورته ټولنیزو موضوعاتو کې کار کړی دی. ښاغلی وفایي خپل لیسانس او ماسټری په سیاسی علومو کې د کاتب پوهنتون څخه تر لاسه کړی دي او همدارنګه په کابل کې د ګوهر شاد عالی تحصیلاتو انسټیټوټ کې یې تدریس کړی دی.

وفایي د سیاسی سلاکار په توګه په کابل کې د اروپایي سیاسی استازو سره او همدارنګه له نړیوالو بنسټونو د نړیوالۍ ډیموکراسۍ په ګډون او پراختیایي انسټیټوټ ... سره دنده تر سره کړی ده. وفایي خپل ساحوی کارونه په پراخه توګه په ټول افغانستان کې تر سره کړی دي او "د افغانستان پارلمان او ټاکنۍ، د پارلماني او سیمه ایيزو شوراګانو د ټاکنو په اړه د مجلس د استازو لید او د ټولنیزې پرمختیا له لاری د معیشت بیا یوځآی کیدل" د مقالو په لیکنه کې مرسته کړی ده.

## ١. پېژندنه:

ښځې د افغانستان په سیاسي ژوند کې تر بل هر وخت اوس زیاتې ښکارندې دي. ښځې اوس په مهمو سیاسي پوستونو لکه د وزیرانو، والیانو او سفیرانو په حیث کارونه کوي. په عین وخت کې د رسنیو راپورونو ته که وګورو، څرګندیږي چې ښځې اوس هم له ډېرو ګواښونو سره مخ دي. د مثال په ډول، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په ۲۰۱۲ کې په یوه راپور کې ویلي دي:

> اوسني حکومت چې د نړیوالي ټولنې ملاتړ ورسره دی یو شمېر داسې محافظوي اقدامات کړي دي چې د اساسي قانون او نورو قوانینو پر بنسټ طرح شوي دي. دغه اقدامات د اتباعو په خبر د ښځو مساوي حقوق ساتي چې کولای شي د هیواد په دیموکراتیک سیستم کې برخه واخلي او په ۲۰۰۸ کال کې د ښځو لپاره د عمل د ملي پلان له مخې د ښځو د نورې پیاوړتیا او د جندر د برابرۍ په غرض د حکومت له خوا د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ په عمومي چوکاټ کې یو کاري پلان تنظیموي. سره د دې، داسې شواهد شته چې په وروستیو کلونو کې د ښځو پیاوړتیا تر یوه حده محدوده شوې. ډېرې هغه ژمنې چې د ښځو لپاره د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون او نورو اسنادو کې ورکړل شوي دي لا تر اوسه په ټول هیواد کې نه دي بشپړې شوې ... او وروستیو قوانینو حتی ځینې دغه بریاوې مردودې ګڼلې.[1]

په سیاسي بهیر کې د ښځو د ګډون په وړاندې د تاوتریخوالي ګواښ، په ټولو شکلونو او بڼو کې یو له مهمو ننګونو څخه دی. په عامه سیاست کې د ښځو د ګډون او د دوی د حقونو د پرمختګ په وړاندې په تاریخي لحاظ له تاوتریخوالي ډک غبرګونونه ښودل شوي دي.[2] دې دوامداره تاوتریخوالي ته په غبرګون کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او په ملګرو ملتونو کې د ښځو ادارې په ګډه سره یوه څېړنه ترسره کړې چې په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی بېلا بېل نمونې ښیي او څرګندوي چې دغه تاوتریخوالی په مساوي ډول په سیاسي بهیر کې د ښځو قوت څنګه اغېزمنه کوي. د څېړنې مقصد دا دی چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی په ښه ډول درک شي، څو په راتلونکې کې د دې ډول تاوتریخوالی په وړاندې مشخصې سپارښتنې وکړای شو او وکولای شو هغه تر یوه حده پورې کابو کړو.

---

١ اولیورلو، فرخ لقا امیني ، فرید احمد بیات، ریحاني ګلشن حسیني، ضیا حسین، مسعوده کوهستاني او کونا ایر ایچاویز، " برابر حقوق، نابرابر فرصتونه. د افغانستان په پارلماني او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې ګډون" ( کابل، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ۲۰۱۲ ).

٢ دینیز کاند پیوتي. " په افغانستان کې د بیا ودانونې او جندر سیاست." ( ژنیو ، د ټولنیز پرمختګ لپآره د ملګرو ملتونو د څېړنې بنسټ ، ۲۰۰۵ ) ۳۱.

د دې کار لپاره، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د څېړنې د لومړنۍ پړاو په څېر کابل او ننګرهار ولایتونه غوره کړي. دغه ولایتونه ځکه غوره شوي چې په یوه امن لرونکی ولایت کابل کې تاوتریخوالی له هغه ولایت سره مقایسه کړو چې ځینې برخې یې ډېرې نا امنه دي، لکه ننګرهار. د فبروري تر ۲۰ پورې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ۲۸ مرکې او ۲ متمرکز ګروپي بحثونه سرته رسولي (FGDS). په دې برسېره، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د خلکو د نظریاتو یوه سروې ترسره کړې چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی په هکله دوی څه فکر کوي. تر دې دمه، په دې دوو ولایتونو کې له ۵۳۳ زیاتو کسانو سره مرکې شوې دي.

دغه څیړنه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د بیلابیلو ډولونو په هکله او د لومړنیو څیړنو په اړه د نظریاتو بیا کتنه وړاندې کوي او ځېنې سپارښتنې لري چې څنګه د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی ته غبرګون وښودل شي او هغه محدوده کړي. لیکنه د تاوتریخوالی د ځینو هغو ډولونو په بیانولو پیل کوي چې ښځو په مرکو کې د هغو یادونه کړې او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه په پای کې ځینې مقایسوي یادونې لري او د څېړنې سپارښتنې به خپرې شي.

## ۲. د ښځو په وړاندې د ټاکنو اړوند تاوتریخوالی څه شی دی؟

د ۲۰۱۸ کال پارلماني ټاکنې په داسې وخت کې وشوې چې تاوتریخوالی او ناامنۍ دوام درلود. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د وروستي راپور په قول، ۲۰۱۸ کال د افغان ملکي خلکو لپاره تر ټولو خطرناک ثبت شوی کال و. دې تاوتریخوالي په خاص ډول د ښځو او ماشومانو لپاره ډېری جدي پایلې درلودې چې په ۲۰۱۸ کې یې د ټولو ملکي تلفاتو ۳۸ سلنه جوړوله[3] په دې برسېره، د جګړو له اغېزو ورها خوا ښځې او ماشومان له یو لړ نورو ګواښونو سره هم په ورځني ژوند کې مخ دي.[4] سره د دې ټولو ننګونو ۴۵ سلنه رایه اچوونکي وکړای شول چې په ټول ملک د غزني ولایت په استثنا په ټاکنو کې برخه واخلي.[5]

ایا تاسو په پارلماني ټاکنو کې خپل ځان د رایې اچونې لپاره راجستر کړی؟




په افغانستان کې تاوتریخوالي او ټاکنې ډېرې سره نغښتې دي. د ټاکنو په هره دوره کې د رای اچونې په مرکزونو ، رایه ورکوونکو ، د کمپاین په کارکوونکو او نوماندانو بریدونه شوي او د تاوتریخوالي نور ډېر شکلونه لیدل شوي.[7] د لومړنیو سروې ګانو پایلو ښودلې چې ښځې د نارینه وو په پرتله د ۲۰۱۸ کال د پارلماني ټاکنو لپاره مخکې ثبت شوې (۴۵ سلنه ښځې او ۷۴ سلنه نارینه) او په ټاکنو کې د برخې اخیستنې په وړاندې عوامل د ښځو او سړو لپاره یو ډول وو. ددوی په اند ناامنی په دې لړ کې تر ټولو لوی عامل و (۳۹ سلنه ښځې او ۳۵ سلنه سړي). په دې برسېره، د ښځو په اړه د کورنیو له خوا فشار د دویمې درجې لوی عامل و (۳۰ سلنه ښځې او ۱۳ سلنه سړي). د دوا ړو یعنی ځواب ورکوونکو له ډلې څخه او دغه راز په اسنادو کې په دې اړه ښکاره موافقه نشته چې په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی څنګه باید تعریف او څېړنه ئې وشي.

په ټاکنو کې عمده فکتورونه چې ښځې له اشتراک کولو څخه منع کوي




لکه په افغانستان کې د نورو سیاسي مفهومونو په اړه ، مهمه ده چې تاریخي شرایط وپېژنو کوم چې د دې اصطلاح په باره کې درک او تفاهم ته شکل ورکوي. د مثال په ډول، "دیموکراسي" او د دیموکراتیکو بهیر اړوندو درکونه، لکه ټاکنو لپاره باید په تاریخي او کلتوري شرایطو وپوهیږو، چېرې چې د جندر مساله یو مهم اړخ جوړوي. د یو لړ مرکو او ګروپي مباحثو په ترڅ کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري درک کړې چې د "دیموکراسي" اصطلاح نه یوازې له ځینو سیاسي بهیر سره اړه درلوده، بلکې له یو لړ عملي کارونو سره یې اړه درلود چې غیر اسلامي ګڼل کېدل.[7] په عین وخت کې په افغانستان کې سړیو د ښځو په پرتله دیموکراسي ته د ښځو له چلند او سلوک سره تړاو ورکړي. دې انګېرنې ځینې ستونزمنې پایلې درلودې چې په ځینو دیموکراتیکو بهیر لکه په ټاکنو کې د ښځو او سړیو په منځ کې یوه تضاد ته اشاره کوي. همدغه راز، مهمه ده پوه شو چې په ځایي کچه له تاوتریخوالي څخه درک څه شی دی او په افغانستان کې دغه درک د ټاکنو په اړه څه مانا درلودای شي.

۳ د ملګرو ملتونو کلنی راپور: "په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو ساتنه، فبروري ۲۰۱۹ ، کابل: "https://unama.unmissions.org/sites/default/files/ _۲۰۱۸_afghanistan_protection_of_civilians_annual_report pdf.۰_۲۰۱۹_feb_۲۴_final

۴ د مثال په ډول وګورئ: بې عدالتي او معافیت: د ښځو په وړاندې د خشونت د جرمونو منځګړیتوب . په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر (OHCHR).

۵ شادي خان سیف (اکتوبر ۲۱، ۲۰۱۸)، د افغاني پارلماني مهمو ټاکنو پای اناتول، ایجنسي.

۲ نوواکو برن او انا لارسون، په افغانستان کې د دیموکراسي منحرف کول، د کولو مبیا پوهنتون چاپ ، ۲۰۱۴.

۷ انا لارسون، په افغانستان کې د دیموکراسي ورانول، (کابل، په افغانستان کې د څېړنې او ارزونې اداره ۲۰۱۱).

د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي د کموالي او منع په اړه د ملګرو ملتونو د پالیسي لارښود (۲۰۱۲) په خاص ډول په ټاکنو کې تاوتریخوالی د سیاسي تاوتریخوالي یو شکل ګڼي، چې معمولاً د دې لپاره طرح شوي وي چې د ټاکنو په پایلو باندې نفوذ ولري او په دې ډول د ځواک په وېش باندې اثر وغورځوي.[8] دغه کار په بیلابیلو شکلو او بڼو ترسره کیږي او په بیلابیلو ډولونو په بېلا بېلو وختونو کې درک کیږي. د تاوتریخوالی په دې شکلونو کې په ښځینه نوماندانو باندې له مستقیمو بریدونو څخه نیولې تر رواني هڅو پورې پکې شاملیږي چې غواړي ښځینه رایه ورکوونکې تر اغېزې لاندې راولي. له مرکو او ګروپي مباحثو او اسنادو څخه کیفي ارقام څرګندوي چې د تاوتریخوالی په اړه درک او فهم ډېر له دې سره مرسته کوي چې پوه شو د تاوتریخوالي د درک کولو تګلارې د خلکو پوهې ته شکل ورکوي او په ذاتي ډول هغه لارې چارې تعینوي چې خلک څنګه له تاوتریخوالی سره چلند کوي. دا تګلارې دغه راز، په ډېرو مواردو کې څرګندوي چې د تاوتریخوالی ګواښ همدومره شدید دی لکه څومره چې په فیزیکي ډول پخپله تاوتریخوالی اثر غورځوي. د دې لپاره چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی په ښه ډول وپېژنو او مخنیوی یې وکړو، ښه به وي چې په یو لړ داسې کټګوریو کې تاوتریخوالی ته نظر واچوو چې له یوې بلې سره نژدې والی لري. په دې کټګوریو کې دا لاندې حالتونه شاملیږي.

لومړی جدول: د مرکه ورکوونکو له خوا د تاوتریخوالی ویل شوي ډولونه

| د تاوتریخوالی ډولونه | بدلونونه | د مرکه ورکوونکو له خوا ویل شوي مثالونه او نورې پېښې |
|---|---|---|
| د نوماندانو، رایه ورکوونکو او نورو په وړاندې مستقیم فیزیکي تاوتریخوالی | • په پارلماني نوماندانو بریدونه<br>• د رایه اچونې په مرکزونو بریدونه<br>• کورنی تاوتریخوالی | • د کابل د ۱۷ ناحیې د پولیس په ماموریت ځانمرګي برید چې د ټاکنو په ورځ یې ۱۴ تنه ووژل.<br>• ځانمرګی بمي برید په ۱۳ ناحیه کې<br>• د نوم د ثبتولو په مرکز او د رایې اچونې په مرکزونو کې فیزیکي ښتې<br>• د ښځو نوماندانو په وړاندې کورنی تاوتریخوالی |
| غیر مستقیم فیزیکي تاوتریخوالی | • عمومي ناامني | • په جلال آباد کې د پولیس په پوسته کې ځای پر ځای شوی بم چې رایه اچوونکی یې ووژل<br>• د رایه اچونې په مرکزونو د بریدونو څخه وېره<br>• د طالبانو له خوا ګواښونه چې د رایه اچوونکو ګوتې به پرې کړي. |
| رواني، ټولنیز او احساساتي تاوتریخوالی | • بریدونه<br>• ګواښونه | • د نورو کاندیدانو یا د سیالو کاندیدانو له خوا د ښځینه کاندیدانو ګواښونه<br>• د کورنۍ غړي ښځې له رایه اچونې څخه منع کوي.<br>• ښځې چې د کورنیو له غړو یا د نورو ټولنو د غړو له خوا له دې کبله تر نیوکې لاندې راځي چې رای ورکوي یا په سیاسي چارو کې برخه اخلي. |
| جنسي تاوتریخوالی | • جنسي ګواښونه<br>• شرمول | • ښځینه نوماندانې په جبري ډول تر جنسي تاوتریخوالی لاندې راغلی چې په بدل کې به رای تر لاسه کړي.<br>• د سیاسي مسلو په اړه ښځې په ان لاین ډول ځورول شوې. |
| جبری تاوتریخوالی | • شړل<br>• زور | • د مذهبي عقیدې له مخې شړل<br>• ښځو ته د چارواکو یا کورنیو له خوا ویل شوي چې دوی نه شي کولای رای واچوي. |
| جوړښتي تاوتریخوالی | • تعلیم، عدالت، ترانسپورټ او د بنسټیزو شکلونو ته غیر مساوي لاسرسی | • ښځې د رای اچونې په حقونو نه پوهیږي<br>• ښځې نه شي کولای د رایه اچونې مرکزونو ته ولاړې شي<br>• ښځې نه شي کولای شکایت وکړي که د دوی د رایې ورکونې حق له منځه ولاړ شي. |
| د درغلی او فساد له امله تاوتریخوالی | • د رایه اچوونکو درغلي<br>• فساد | • د درغلي او فساد په اړه راپورونه چې په پایله کې یې ځینې نوماندان بریالي شول او د رایه ورکوونکو په وړاندې یې د استازیتوب څخه انکار کړی |

8 په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې د خشونت څخه مخنیوی: د پروګرام لارښود، په ملګرو ملتونو کې ښځې او یو این ډي پي ۲۰۱۷.

## الف: د ښځینه رایه اچوونکو، نوماندانو او کمپاین کارکوونکو په وړاندې مخامخ فیزیکي تاوتریخوالی

ډېری مرکه ورکوونکو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه خپلې مباحثې په دې پیل کړې چې څنګه د ښځو او نورو کسانو په وړاندې چې په ټاکنو کې یې برخه اخیستې وه مخامخ فیزیکي تاوتریخوالی ترسره شو. د مثال په ډول، په دې پېښو کې په کابل کې د رایه اچونې په یو مرکز کې ځانمرګی برید وشو. د نوماندانو په وړاندې تاوتریخوالی ډېر ځله هغه کسان ګواښوي چې د کمپاین لپاره کار کوي او یا د کمپاین هلوځلو ته نږدې اوسي. د مثال په ډول، ډېرو مرکه ورکوونکو په ننګرهار کې د پارلماني ټاکنو په نوماند عبدالناصر مومند په کامه ولسوالي کې د ځانمرګي برید پېښه یاده کړې.[9] ښځینه نوماندانو په دې بحث وکړ چې دوی د ساتنې لپاره ساتونکو ته اړتیا لري، په خاصه توګه په هغه وخت کې چې په عامه ځایونو کې کمپاین کوي، او دا چې ښځینه نوماندانې د نارینه نوماندانو په ډول تر ګواښ لاندې نیول کیږي. په نوماندانو، رایه اچوونکو یا د کمپاین په کار کوونکو ډېری بریدونه، یا طالبانو یا حکومت ضد ګروپونو ته تړاو لري چې غواړي حکومت او د ټاکنو بهیر بې اعتباره کړي یا هغو اشخاصو یا ډلو ته تړاو لري چې سیال نوماندان پیاوړی کوي او هڅې کوي چې یا سیال نوماند ووژني یا رایه ورکوونکي وېروي.

> ❞په هغو ځایونو کې چېرې چې ځایي پولیس (اربکیان) وي، دوی موږ ته اجازه نه راکوي چې د ټاکنو بهیر وګورو او مهم نارینه کاندیدان یې حمایه کړي. دا د موږ لپاره یو عمده ګواښ دی. د ټاکنې ښځینه کتونکې❝

دغه راز، داسې راپورونه هم رارسیدلي چې د فیزیکي تاوتریخوالی موارد پکې کم لیدل شوي په ننګرهار کې په یوه پیښه کې د رایه اچونې د مرکز یوې ښځینه څارونکې وویل چې څنګه د یوه نوماند زوی د دوی د رایه اچونې مرکز ته ننووت او یوه د ټاکنو ښځینه فعاله یې په څپېړه ووهله. دې هلک فکر کاوه چې ښځه رایه اچوونکي د ده پلار ته له رای ورکولو څخه منع کوي.[10]

دغه راز، کېدای شي چې کورنی تاوتریخوالی له ټاکنیزې بهیر سره تړاو ولري. ښځو ویلي دي چې څنګه د کورنۍ غړي، ډېر ځله مېړونو ښایي ښځې ووهي که دوی په هغه ډول چلند و نه کړي چې د منلو وړ وي. یوه ملک[11] توضیح کړه:"هو ما پخپله لیدلي چې زموږ په ګاونډ کې چې یو سړي خپله ښځه وهله [ ځکه چې دې غوښتل بل چاته رایه ورکړي] . او ویې ویل: " زه ستا مېړه یم او څه شی چې مېړه وایي ښځه باید هغه کار وکړي."[12]

۹ وګورئ http://www.bbc.com/persian/afghanistan-۴۵۲۲۷۱۱۵.

۱۰ مرکه NGR-BSD-VAWE-RAZIA-SA-C

۱۱ ځایي مشر، ډېر ځله د حکومت له خوا د کومې ساحې د استازي په څېر منل شوی وي.

۱۲ مرکه ۰۷۰۱۹-KB-VAWE-Jamal –kh

مخامخ فیزیکي تاوتریخوالی ډېر ځله یوه غیر مستقیمه اغېزه هم درلودلای شي. د مثال په ډول، په څو مرکو کې د رسنیو هغو راپورونو ته اشاره شوې چې طالبانو د هغو کسانو ګوتې پرې کړې چا چې رای ورکړې وې. دغه خبره تر څېړنو لاندې سیمو کې یو فکتور نه و، مګر د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي ګواښ لا اوس هم د ډېرو پېښو لپاره ډېر مهم و. دغه پېښې، د رای اچونې په ځایونو د نورو بریدونو په اړه له اوازو سره د دې مانا درلوده چې د تاوتریخوالي ګواښ په رایه اچوونکو باندې ډېر اثر غورځولی و او له دې امله زیاتره خلک په کورونو کې پاتې شول خو په حقیقت کې دومره بریدونه هم نه و شوي.

## ب: ګواښونه او غیر مستقیم فیزیکي تاوتریخوالی

که څه هم د مخامخ فیزیکي تاوتریخوالی پیښې ډېرې عامې وې، د فیزیکي تاوتریخوالی په ذریعه ډېر مرکه ورکوونکي نه و اغېزمن شوي. د دې په خلاف تقریبا هر یوه مرکه ورکوونکي توضیح کړه چې څنګه نا امنې، ګواښونو او د غیر مستقیم تاوتریخوالي نورو شکلونو د ټاکنو په بهیر کې د دوی ګډون تر اغېزې لاندې راوستی و.

نا امنې د ښځو او نارینه وو د رایه اچونې عادتونه تنظیم کړي وو او هغو ته یې شکل ورکړی و. په خاص ډول په هغو ساحو کې چې امنیت ډېر ښه نه و. لکه څنګه چې د رایه اچونې د یوه ځای یوې ښځینه مشرې وویل:" ډېرو خلکو ځانونه نه وو ثبت کړي او رایه یې نه دې اچولې ځکه په ننګرهار کې امنیتي وضعه کمزورې وه." له یوې خوا د طالبانو او داعش څخه وېره[13] او له بلې خوا د ځایي ځواکمنو [ قوماندانانو] ... دغه ډول خلک د ټاکنو په لړ کې ستونزې جوړوي... په وروستیو ټاکنو کې په دې ولسوالی کې دوه چاودنې وشوې. دواړه چاودنې د رایه اچونې په ځایونو کې تر سره شوې.[14]

د دې برعکس ښځینه کاندیدانې په غیر متناسب ډول له ناامنۍ څخه اغېزمنې شوې که د نارینه نوماندانو سره پرتله شي. د مثال په ډول، ناامنې د دوی په وړتیا باندې د کمپاین په وخت کې ډېره زیاته منفي اغېزه وکړه. لکه څنګه چې یوه ځآیې مشر وویل: " حتی په کابل کې یوه ښځینه نومانده نه شي کولای د کابل ولایت ټولو ولسوالیو ته ولاړه شي ترڅو هلته له خلکو سره وګوری او کمپاین وکړي. د دې دلیل دا دی چې وسله وال ګروپونه، تښتوونکي او نور جنایت کاران فعاله دي. "[15]

> ❞کمپاین کوونکي برول شوي او د دوی په اړه په ټولنیزه رسنیو کې اوازې خپرې شوې- ښځینه نوماندده❝

د دغو ګواښونو اغېزه ډېر ځله د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي له نورو ډولونو سره یو ځای کیږي. د مثال په ډول په ننګرهار کې داسې پیښی نه دي رامنځ ته شوې چې ښځې د رای ورکونې له کبله وژل شوې وي.

۱۳ په افغانستان کې د اسلامي دولت (ISIS) د تقویې جنبش

۱۴ مرکه ... مخ ۱۵

۱۵ مرکه .... مخ ۱۵

په هر حال، ډېرې نورې داسې اشارې موجودې وې چې ښځې په فیزیکي ډول وهل ټکول شوې او یا حتی وژلې شوې ځکه چې دوی بې له اجازې له کورونو وتلې وې یا یې د کورنیو نارینه غړو سره په بل ډول مقابله کړې وې. دغه اوازې د دې ډول پېښو په اړه د رسنیو له خوا نورې هم پیاوړې شوې.[16] او په مرکو کې دغه قضیې یو بل داسې لامل ګڼل شوی چې ښځې له رای ورکونې څخه بې برخې شوې او ښیي چې تاوتریخوالی په نورو سیمو کې څنګه کولای شي په ټاکنو خپل اثر وغورځوي.

## ج: رواني، ټولنیز او جذباتي تاوتریخوالی

ښځې د یو لړ رواني، ټولنیز او جذباتي تاوتریخوالي قربانیانې دي چې په نارینه ډېر کم اثر کوي. دغه تاوتریخوالی له ګواښونو او غیر مستقیم تاوتریخوالی سره نژدې والی لري. دغه تاوتریخوالی ډېر ځله په سیاسي ژوند کې د ښځو د نقش په اړه د ټولنیزو او کلتوري نورمونو پر بنسټ ترسره کېږي. د رایې اچونې د ځای یوې ښځینه مشرې وویل: "لومړی، ننګونه د دې ټولنې کلتوري باورونه دي چېرې چې نارینه په رهبري کې دي او په ښځو حکمراني کوي. د دوی له اجازې پرته ښځې هیڅ ډول شخصي پرېکړه نه شي کولای." [17]

ډېرو مرکه ورکوونکو د دې حقیقت یادونه کړې چې نارینه د دوی په کورنیو کې هڅه کړې چې په مخامخ ډول دوی کنټرول کړي چې د چا لپاره رایه ورکړي یا دا چې په رایه اچونه کې برخه واخلي یا نه. په ځینو مواردو کې، حتی ډېرو تعلیم یافته ښځو راپور ورکړی چې د دوی د مېړنو یا نورو خپلوانو له خوا تر نیوکې لاندې راغلې ځکه دوی نورو کاندیدانو ته رای ورکړې وې او په دې ډول یې په ټاکنو کې د ښځو لپاره د ارزښتناکې برخې اخیستنې په وړاندې خنډونه جوړ کړي.

ټولنیز فشار هم په عمومي ډول د ښځو برخې اخیستنې په مسلو کې کارول شوی. یوې ښځینه مرکه ورکوونکې ویلي چې څنګه د وکیل ګذر له خوا د کمپاین د یوې غونډې په ترڅ کې د دې خبرې پرېکړې شوې. دې سړي، ښځې او ټول حاضر کسانو ته نیوکه وکړه او ویې ویل چې "د ښځو لپاره د شرم ځای دی چې سیاست والې شي او په نتیجه کې د هر هغه چا لپاره هم د شرم ځای دی چې له دوی سره مرسته کوي." [18]

مرکه ورکوونکو دغه راز، د داسې مواردو یادونه هم کړې چې ښځینه نوماندانې وېرول شوې وې، په خاصه توګه د ټولنیزې رسنیو یا نورو شکلونو له لارې. ویل شوي چې یوې ښځینه نوماندې په یوه شپه کې له ۴۰ نه تر ۵۰ پورې ځورونکی پیامونه (sms) تر لاسه کړي.[19] که څه هم په ځینو مواردو کې ګواښونو د ښځو اراده نوره هم پیاوړې کړې چې په ټاکنیزه بهیر کې برخه واخلي. رواني زیان ښکاره و او نوماندان او رایه اچوونکي یې دواړه اغېزمن کړي.

## د: جنسي تاوتریخوالی

د ټاکنو په دوران کې د ښځو په وړاندې جنسي تاوتریخوالی چې د معلوماتو د راغونډولو په اړه تر ټولو ډېره ستونزمنه سیمه وه په ډېره لږه پیمانه د عامه مباحثو برخه وه ځکه کلتوري او امنیتي حساسیتونو د دې اجازه نه ورکوله. سره د دې هم ، دا مسله په ضمني ډول په مرکو کې یاده شوې.

> "زه دا ځواک نه لرم چې د سیاسي نخبه ګانو او ځواکمنو سړیو پر وړاندې ودرېږم. له کابل څخه یوه ښځینه کاندیده"

ډېری ښځینه نوماندانو چې په دې څېړنه کې مرکې ورسره شوې د ښځو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالی څو ډولونه یاد کړي دي. یوې نوماندې وویل : " زه باور لرم چې د ښځینه نوماندانو پینځوس سلنه له جنسي تاوتریخوالی سره مخ شوي دي. دې نوماندانو ته د موقفونو ژمنې ورکړل شوې [ د جنسي عمل په بدل کې] خو ډېر ځله دغه ژمنې نه دي پوره شوې. د ټاکنو له لومړنۍ ورځې وروسته ما د ټاکنو د شکایتونو خپلواک کمیسیون ته ثبت شوي شکایت ورکړ چې ما مستند کړی و خو دوی و نه منل چې زما شکایت واوري. " [20]

په نورو برخو کې ښځې په غیر مستقیم ډول ګواښل شوې دي. ډېری کاندیدانې د دې لپاره تر نیوکې لاندې نیول شوې چې په عام ډول په کمپاین کې یې برخه اخیستې وه او دا حقیقت چې دوی زیات سفرونه کول د داسې شکایتونو او اوازو لامل ګرځېدلی چې ګویا دوی نامناسب عملونه کول. د بلې نوماندې په اړه په فیسبوک کې داسې اوازې خپرې شوې چې دې له نارینه نوماند سره جنسي اړیکې درلودې. دې خبر نور تبصره کوونکي دې ته هڅولي چې هغې ته فیزیکي زیان ورسوي. په یوه بل ورته برخه کې د فیسبوک له لارې داسې اوازه خپره شوې چې یوې ښځینه کاندیدې چې له خپل لومړني مېړه څخه یې طلاق اخیستی و او بل واده یې کړی و په حقیقت کې یې په رسمي ډول طلاق نه و اخیستی یانې دې د زنا جرم اجرا کړی و. په بله برخه کې ویل شوي چې یوې ښځینه نوماندې په یوه شپه کې له **۵۰** څخه زیات پیامونه تر لاسه کړي چې د رایو په بدل کې د ښکلولو یا جنسي عمل غوښتنه ترې شوې وه.[21]

د ټولنیزو رسنیو د اوازو ګواښونه په حتمي ډول واقعي ګواښونه نه دي او په یوه پېښه کې یوې ښځینه نوماندې راپور ورکړی چې یوه سړي د دې معلومات په انټرنیټ کې له پیدا کولو وروسته د دې د کمپاین دفتر ته ورغلی او په مخامخ ډول یې د واده غوښتنه ترې کړې ده.

---

16 د مثال په ډول وګورئ: جبترو مولن او مسعود پوپلزی. نوومبر ۲ ، ۲۰۱۵ په افغانستان کې د زنا په تور د ښځو سنګسارول ، سی این این

17 مرکه ۱۱۰۲۱۹-NGR-SR-VAWE-Shakila- SA

18 مرکه ، ۳۰۰۱۱۹-NGR-SR-VAWE-Hamid-SA

19 /۲۳۰۰۵۴۹۵۴۰۹۱۱۲۲/https://www.facebook.com/AzadiR/videos

20 مرکه ۱۱۰۲۱۹-NGR-SR-VAWE-Shakila-A. که څه هم ناممکنه وه چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په خپلواک ډول دغه ادعاوې کره کړي ، خو په تکراري مرکو کې دغه یوه مهمه موضوع وه. دا خبره په ډاګه کوي چې حتی که دغه ډول خشونت په حقیقت کې تر سره هم نه شي، د هغه وېره په سیاسي ډګر کې د ښځو په چلند اثر غورځوي.

21 /۲۳۰۰۵۴۹۵۴۰۹۱۱۲۲/https://www.facebook.com/AzadiR/videos

## ه: د شړلو یا په زور تاوتریخوالی

ښځې دغه راز راپور ورکوي چې نه شي کولای په ټاکنو کې برخه واخلي یا کله چې دغه اجازه ولري، تر فشار لاندې وي چې یوه مشخص نوماند ته رایه ورکړي. په ډېرو مرکو کې ښځو د مثال په ډول منلې چې دوی د کورنۍ د نارینه غړو اجازې ته اړتیا درلوده چې په رایه اچونه کې برخه واخلي. دغه اجازه په معمول ډول دوی له خپلو مېړونو څخه اخیسته. دغه شرط د نورو هغو ښځینه نوماندانو لپاره هم موجود و چې د کمپاین په وخت کې یې د کورنۍ د نارینه غړو له مرستې پرته مقابله کوله. په نورو برخو کې ویل شوي چې د مذهبي دلایلو له کبله ښځو ته حق نه دی ورکړل شوی چې په ټاکنو کې برخه واخلي. مذهبي لارښونکو داسې استدلال کړی دی چې په اسلام کې ښځو ته اجازه نشته چې په سیاست کې برخه واخلي. په ښځو باندې دغه فشار چې په سیاست کې برخه وانخلی کېدای شي په غیر مستقیم ډول وی، لکه یوه کمپاین کوونکی چې ویلي: "د ښځو لپاره ګرانه ده چې [د کمپاین په وخت کې] د ډېر وخت لپاره په جومات کې پاتې شي".[۲۲]

همدارنګه، د ښځو لپاره په رایه اچونه کې له ستونزو سره یو ځای داسې راپورونه هم رارسېدلي چې ښځې مجبوري شوي په یوه خاصه توګه رایه واچوي. دغه فشار په معمول ډول د کورنۍ د غړو له خوا عمومي فشار وي چې په یوه خاصه توګه رایه واچوي. ښځې د نارینه وو په پرتله د دې ډول فشارونو څخه زیاتې اغیزمن شوي.

په همدې ډول د یادونې وړ ده چې دوی د ځانګړې رای په خوندیتوب باندې باور نه درلود. مرکه ورکوونکو داسې طریقې یادې کړې دي چې رای ښکاره شوې دي او ځینو احساس کړې چې خوندیتوب نه دی ساتل شوی. د دې مانا دا وه چې که چېرې ښځینه رایه اچوونکو د خپلې کورنۍ یا ټولنې غوښتنې د رایه اچونې په وخت کې ونه منې، دوی احساس کاوه چې دغه معلومات به ښکاره شي.

## و: جوړښتیزه تاوتریخوالی

مرکه ورکوونکو دغه راز جوړښتیزه نابرابریو او نورو جوړښتي ستونزو ته اشاره وکړه چې ښځې له رای ورکونې څخه منع کوي. د دغو ستونزو څخه تر ټولو ډېره عامه یې تعلیم و او ښځو او نارینه وو دواړو د ښځو بې سوادي او د تعلیم ټیټې کچې ته اشاره کړې او په دې باور و چې دغه شرایط ښځې ګوښه او د رای اچونې له بهیر څخه یې منع کوي. همدا راز، داسې ویل شوي چې د ښځینه نوماندانو شمېر ډېر لږ و ځکه د ښځو په منځ کې د تعلیم کچه ټیټه وه.

کله چې د رای ورکونې خبره یاده شوې، په دې اړه یو بل جوړښتیزه ګواښ چې اشاره ورته شوې وه، د ترانسپورت مسله وه. ښځینه کاندیدانو په خاص ډول شکایت کړی چې دوی هڅه کړې څو خپل پلویان ټول د رای اچونې ځایونو ته انتقال کړي ځکه چې ښځې اجازه نه لري چې په یوازې توګه لېرې ځایونو ته سفر وکړي او په ځینو برخو کې حتی د نارینه خپل په ملتیا هم سفر نه شي کولای. د رای اچونې ځایونو ته فاصلې په غیر متناسب ډول ښځې د سړیو په پرتله زیاتې زیانمنې کړې دي.

## ز: د درغلي او فساد له لارې تاوتریخوالی

> "سړي د ښځو د رایې اچونې د ارزښت پوهاوي ته زیات ضرورت لري. ښځې له پخوا څخه زیات اوس په سیاست کې علاقمندي لري، مګر لا اوس هم د جندر تبعیض وجود لري چې له امله یې ښځې نه شي کولای لوړې سیاسي رتبې لاس ته راوړي. ښځې ضرورت لري چې زیات سیاسي رهبران په لوړو مقاماتو ووینې چې دوی اشتراک کولو ته تشویق کړي.- د ټاکنو یوه ښځینه تحلیلونکې"

په پآی کې ځینو کاندیدانو په دې خبره باندې ټینګار وکړ چې د فساد یا درغلۍ له لارې د رای اچونې ځواک د تاوتریخوالی عمل نه دی. دغه خبره په عام ډول د نارینه وو له خوا په مرکو کې شوې خو د ښځو له خوا په زیات شمېر کې نه ده شوې که څه هم چې درغلي او فساد دواړه نارینه وو او ښځو ته تاوان رسوي. په ننګرهار کې یوه سړي وویل: "زه فکر کوم چې تاوتریخوالی د یو بل سړي رایه په زور یا د درغلي په ذریعه اخلي یا په یو شخص باندې فشار راوړي چې د پیسو یا ځواک په ذریعه په یو مشخص ډول خپله رایه وکاروي."[۲۳] یو بل ملک چې مرکه ورسره شوې وویل چې د مخورو له خوا درغلي د ټولو افغانانو له رایو سره تاوتریخوالی ښکاره کړی او دا خبره هم یاده شوې چې د رایې اچونې ځایونو ته د لمړنی څېزونو د نشتوالي له امله د ښځو په راوړلو کې ستونزې هم باید د تاوتریخوالي په ډول وګڼل شي.

۲۲ مرکه، ۱۲۰۲۱۹-NGR-BSD-VAWE-Razia-SA

۲۳ مرکه ۱۳۰۲۱۹-NGR-KM-VAWE-Fayaz-ig

# ۳. د ښځو په وړاندې ټاکنیز تاوتریخوالی څه شی دی او څوک د هغه لامل ګرځي؟

لکه څنګه چې پورتنۍ برخه ښکاره کوي د تاوتریخوالی بیلابیل ډولونه دي چې ښځې په ټاکنیزه بهیر کې له هغو سره مخامخ کیږي او دغه راز دغه تاوتریخوالی ډېر لاملونه لري. د مرکه ورکوونکو ډیری کسانو وویل چې لومړی طالبان او حکومت ضد ډلې په عام ډول په ټاکنیزو بهیر کې ټول ګډون کوونکي او په خاص ډول ښځې تر بریدونو لاندې نیسي. په دې بریدونو کې د رای اچونې په ځایونو حملې او په ټاکنو کې د ګډون کوونکو د ګوتو د پرې کولو ګواښونه شامل دي.

په عین وخت کې، سیال نوماندان هم د ځینو بریدونو شاته ولاړ وو. دغه نوماندان فکر کیږي چې د نورو ځایي ځواکمنانو له خوا پیاوړی کېدل څوک چې په ټاکنو کې د ښځو د ګډون په ضد دي یا غواړي چې د خپلې خوښې نوماندان پیاوړی کړي یا ښایي چې نور کلتوري لاملونه ولري. ځایي ټولنې هم په ډېرو محافظه کارو سیمو کې داسې ګڼل شوي چې د ښځو د رای ورکونې د حق په اعمالولو کې لاس وهنه کوي او په ځینو وختونو کې یې ښځې له ټاکنو څخه په جبري ډول محرومې کړې دي.

کورنۍ او نارینه خپلوان په خاص ډول ډېر مهم ساتونکي او پالونکي دي او کولای شي چې له تاوتریخوالی څخه کار واخلي څو له رای ورکونې څخه مخنیوی وشي. په دې تاوتریخوالي کې د کورني تاوتریخوالی پیښې شاملې وې خو په ډېر عام ډول یې داسې پیښې درلودې چې ښځې یې له ټاکنیزو بهیر څخه ګوښه کړې دي. له دې سره ډېر نژدې ټولنیز او کلتوري نورمونه هم ډېر ځله په سیاسي بهیر کې د نه ګډون اساسي لاملونه ګڼل شوي.

په غیر مستقیم ډول، ډېرو مرکه ورکوونکو افغان حکومت هم په دې تورن کړی چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د قابو کولو لپاره هیڅ نه کوي. په خاصه توګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون په دې تورن شو چې د ښځو د خوندیتوب لپاره ئی هیڅ ګام ندی اخیستی چې هم رای ورکوونکي او هم ښځینه کاندیدانې له خطر څخه وژغوري. په همدې ډول څرنګه چې مرکه ورکوونکو په مخامخ ډول افغان ملي پولیس د تاوتریخوالی د لامل په حیث نه دي په ګوته کړي، خو داسې احساس کېده چې پولیس له تاوتریخوالی څخه د مخنیوي لپاره په کافي اندازه کار نه دی کړی. لکه څنګه چې یوې ښځینه نوماندې شکایت وکړ وروسته له هغه چې دا په کمپاین کې تر ګواښ لاندې نیول شوې وه او ویې ویل " زه پولیس ته ورغلم او شکایت مې وکړ، مګر پولیس راته وویل چې ثبوت یې راوړه حد اقل د موټرونو پلیټ نمبر. " خو دا وخت تېر ماښام او زما د کمپاین کارکوونکو نه شو کولای په تیاره کې د موټرونود پلیټ نمبرولیکي. په دې ډول پولیس دغه موضوع نوره پسې تعقیب نه کړه. "[۲۴] د مدني ټولنې په هکله نظریات ګډ وډ وو. ډېرو کسانو فکر کاوه چې دوی مرسته کوي مګر ځینو مرکه کوونکو بیا هم په دې ټینګار کاوه چې دوی د تاوتریخوالی د مخنیوي لپاره کافي کار نه کوي.

> ”ماته وګوره. زه یوکس نه یم. زه ډېر کسان یم. زه مجبوره یم چې خپل مسلکي کار تر سره کړم. زه یوه مور یم. زه یوه نرسه یم څوک چې د خپلې کورنۍ پالنه کوي او زه مجبوره یم یوه دودیزه ښځه واوسم او زه د کورنۍ له دود سره سم چلند وکړم. په لومړي سر کې زما مېړه همېشه له ما پوښتنه کوله " ته ولې کور ته ناوخته راځې؟ ته له چا سره خبرې کوې؟ " او په پای کې زه مجبوره یم هغه ته ووایم "ته لاس وهنه کوې. که ته زما له سیاسي کارونو څخه ناراضه یې ماته ووایه چې بس یې کړم بیا به زه په کور پاتې شم او تر ټولو به یوه ښه کورنۍ ښځه واوسم. دا دومره ډېر سخت کار نه دی، مګر که ته غواړې چې زه خپل کار ته ادامه ورکړم ته بیا نه شې کولای چې لاس وهنه وکړې. دا یو ډېر لوی کار نه دی. زه لکه د اوبو په شان یم او کېدای شي له هر شي سره یو ځای شم. " له هغه وروسته بیا زه له خپلې کورنۍ سره راضي وم. ښځینه کاندیده.“

۲۴ مرکه مخ ۱۰

## ۴. لومړۍ پايلې، څه کولای شو چې په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي مخه ونيسو؟

که څه هم د تاوتريخوالي پورتنۍ کټګورۍ په ټاکنو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د پوهېدلو او څېړنو لپاره يو لومړنۍ ماډل برابروي، موږ کولای شو چې ځينې پايلې او لومړنۍ سپارښتنې له کټګوريو څخه را وباسو کوم چې به په وروستي راپور کې مفصل بيان شي.

**نا امني او په ټاکنو کې د تاوتريخوالي نور ډولونه چې ښځې او نارينه متاثره کوي.** تر څو چې په افغانستان کې پراخه نا امني موجوده وي، امکان لري چې ټاکنې او سياسي بهير کومې چې له دې سره تړلې دي په همدې ډول له ستونزو سره مخامخ وي. په عين وخت کې د دې ستونزې اغېزې يو شان نه دي.

**د نارينه وو او ښځو تر منځ د تاوتريخوالي په وړاندې د تاوتريخوالي يو شانتتوب سره سره ښځې په نا متناسب ډول نسبت سرو ته متاثره کيږي.** دا حقيقت په ډېر ښکاره ډول په هغو ستونزو کې ليدل کيږي چې ښځې نه شي کولای د رای اچونې ځايونو ته لاسرسی ولري، ورسره دا هم ښکاره ده چې يو لړ ګواښونه شته چې ښځې کانديدانې د کمپاين په بهير کې له ستونزو سره مخامخ کوي. د مثال په ډول يوې ښځينه نوماندې په ډاګه کړه چې څنګه يوه ښځه نه شي کولای د شپې موټر وچلوي يا په مجلسونو کې ګډون وکړي. همدارنګه، ښځه د نورو سياست والو له خوا ځورول شوې چا چې غوښتل يوه شي ولې نارينه د ښځينه ټولنې استازيتوب نه شي کولای، مګر يوې ښځينه نوماندې ته ضرورت لري.

**فيزيکي، رواني او د تاوتريخوالي د نورو شکلونو له يو بل سره ګډون:** که څه هم په رسنيو کې ډېر د پام وړ تاوتريخوالي فيزيکي بريدونه دي. دغه فيزيکي بريدونه اکثرا له رواني او د تاوتريخوالي له نورو شکلونو سره تړلي دي. د مثال په ډول بريدونه په عمومي ډول د ټاکنې د بهير په اړه د ډار لامل ګرځي.

**تاوتريخوالی اکثرا د تبعيض له نورو شکلونو سره يو ځای کيږي.** په ټاکنو کې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی له کلتوري او ټولنيزو شرايطو څخه نه شو بېلولی په کوم کې چې تر سره کيږي. ښځې له تاوتريخوالي، تبعيض او د نورو ګواښونو له پراخې لړۍ سره مخامخ کيږي چې په پايله کې يو داسې سياسي کلتور منځ ته راځي چې هڅه کوي ښځې ګوښه کړي.

**کمزوري بنسټونه د ښځو د ايستلو او د تاوتريخوالي د نورو شکلونو په منځ ته راوړلو کې مرسته کوي.** تاوتريخوالی يوازې د قانون د نشتوالي له کبله جريان نه لري، بلکې د دې قوانينو د نه پلې کولو په صورت کې منځ ته راځي. د ټاکنو خپلواک کميسيون د رای اچونې او د نوم د ثبت مرکزونو د منځ ته راوړلو لپاره کړنلارې طرح کړې. په دې برسېره، په هيواد کې داسې کلي شته چېرې چې دا آسانتياوې نه دي برابر او چېرې چې ښځو ته ناممکنه ده چې هغو ته لاسرسی ولري.[25]




۲۵ مرکه د KBL ليدونکې FEFA

**د تاوتریخوالی د منع کولو لپاره یوه واحده لاره نشته**

څرنګه چې په ټاکنو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ډېر بیلابیل لاملونه شته، نو دا د حیرانتیا خبره نه ده چې یوه واحده د حل لاره نشته. په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی به د سپارښتنو د برابرولو لپاره ژوره څېړنه وکړي مګر لومړنۍ موندنې څرګندوي چې ښځې به دې لاندې اقداماتو څخه برخمنې شي.

- د ښځینه کاندیدانو ښه خوندیتوب
- د ښځینه رایې اچوونکو ښه خوندیتوب
- په انتخاباتو کې د ښځو لپاره ښه مرستندویه جوړښتونه په خاصه توګه..
- په ټاکنیزو مرکزونو کې د کارکوونکو ښځو لوی شمېر
- په رایه اچوونکو ځایونو کې د ښځینه پولیس زیات شمېر
- د ټاکنو په وخت کې ښځو ته د ترانسپورت بهتره اسانتیاوې
- په انتخاباتو کې د ښځو د حقونو په اړه د رای اچوونکو لپاره ښه تعلیم چې ښځې او سړي دواړه د ښځو له حقونو څخه پوه شي.
- د ټاکنو د اوسني قوانینو ښه اجرا کول ، خصوصا هغه خلک تر نظر لاندې نیول چې ښځې د رای اچونې له حق نه بې برخې کوی.
- له رسنیو سره ښه همکاري، چې د ټاکنو په اړه د نظریاتو په جوړولو کې چې په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی په اړه پیغامونه لېږي.
- روڼ ښځینه سیاسي مشرتوب چې په زیات شمېر کې ښځې په ټولو سیاسي کچو کې برخې اخیستلو ته تشویق کړي.

## لنډ نومونه:

| | |
|---|---|
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| ANP | افغان ملي پولیس |
| BBIED | په بدن پورې ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کمیسیون |
| IECC | د ټاکنو د شکایتونو خپلواک کمیسیون |
| UNAMA | په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی |
| VAWE | د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی |

ژباړه: ډاکتر نظام الدین کتوازی

د خپروني کوډ: ۱۹۰۲پ

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په پنځم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، څېنې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

### مالی مرسته کوونکي:

د دې ادارې مالی مرسته کوونکي د سویدن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

The European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), UN Women, Save the Children, and Norwegian Institute of International Affairs (NUPI) .

### همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af